د مجسمه تراش جنازه

ویلا کاتر

ژباړه: قهار درمان



د مجسمه جوړوونکي جنازه

په یوه پرده کې ډرامه

ویلډ کاتر

د والټر ویکز د صحنې اقتباس

پښتو ژباړه: قهار درمان

د یوه مجسمه تراش جنازه

ویلا کاتر

د والټر ویکز د صحنې اقتباس

د ۲۰۰۶ م کال د خپرې شوې نسخې په اساس

ژباړه: قهار درمان

کرکټرونه

پوځی سړی
بانکدار فیلیپس
بانکدار ایلډر
کلانتر
مالدار
د سکرو او لرګیو سوداګر
د رېل پټلۍ کارمند
د بوستۍ سړی
کشیش
وکیل
د ښار نور اوسېدونکي

۱۹۰۵ کال

د یوه بیرانه او ویجاړ کور په حجره کې، د ښارګوټي یو شمیر اوسیدونکي راټول شوي ترڅو د خپل یوه همسایه د مړي درناوی وکړي. مړی د مېلمنو د خوني په منځ کې په تابوت کې پورت ده. د تابوت په تور پوښ د خورما د ونې یوه زرینه پاڼه پرته ده. یوازي یو سړی په دې ګڼه ګوڼه کې په خپلو ښاري جامو کې له دایرې جلا غلی ناست دی او له دوی متفاوت ښکاري.

پوځی سړی

فیلیپسه! فکر کوې څه وصیت به یې کړی وي؟
(بانکدار فیلیپس د مخالفت ښودلو په ډول خاندي او په خپل جیبي چاقو چې د صدف لاستي لري د خپلو نوکانو په پاکولو شروع کوي.

بانکوال فیلیپس

کومه اړتیا به یې نه وي، کنه؟

پوځی سړی

ولې، بوډا وایي چې **هارو** په دې وروستیو کې ښه کارونه کړي وو.

بانکدار ایلډر

زما په اند هدف یې دا دی چې هارو په دې وروستیو کې تړې د زده‌کړو د دوام لپاره د نورو کروندو د ګروی غوښتنه نه وه کړې.

پوځی سړی

داسي وخت مې نه یادیږي چې هارو دي زده کړي نه کولې.
(ټول په خندا شي. متفاوت سړی ددې خبرو په اوریدو حیران او وارخطا ښکاري. کشیش د خپلې غاړې دستمال راوباسي او په زوره خپله پوزه په پاکوي. بانکدار فیلیپس خپل چاقو په یوه ټک بندوي.)

بانکدار فیلیپس

افسوس چې د بوډا زوی تر دې ښه سړي نه شو.

کلانتر

هېڅکله سره جوړ نه وو— کنه؟

بانکدار فیلیپس

پر هارو یې دومره پیسې ولګولې چې په هغو به دولس د غواګانو فارمونه له څارویو ډک شوي وای؛ خو ټولي پیسې یې په اوبو لاهو شوې.

بانکدار ایلډر که هارو کور پاتې شوی او د دوی د لږ مال په ساتنه کې به یې مرسته کړې وای.

بانکدار فیلیپس او د بودا په ښکته کرونده کې یې مالداري پیل کړې وای، ښایي ښه شتمني به یې لرله. خو بودا اړ شو چې هر څه مستأجرو ته وسپاري.

کلانتر هغه هم له هرې خوا دوکه شوی و.

مالدار هارو هېڅکله د مالداری له چارو سره جوړ نه و.

پوځی سړی په ذات کې یې هیڅ هوښیاري نه وه.

مالدار هغه ورځ مو یاد دي چې د سنډرو خره یې د اتو کلنو له رمو سره تبادله کړل، حال دا چې د ښار هر چا ته معلومه وه چې د سندرو خسر دا خره اتلس کاله مخکې خپلې لور ته د واده په ډالۍ کې ورکړي وه او هغه مهال هم بالغه خره وو!
(بیا ټول په خندا شي او پوځی سړی د ماشومانه خوښۍ په ناڅاپي څپه کې خپل زنګنونه وموښي. وکیل غلی ناست دی، سر یې ټیټ نیولی دی.)

د سکرو او لرګیو سوداګر هارو هېڅکله هم په عملي کارونو کې چندان تکړه نه و.

د رېبل پټلۍ کارمند هغه خو بیخي له کار سره مینه نه لرله.

د سکرو او لرګیو سوداګر ښه مې په یاد دی چې وروستی ځل هغه کور ته راغلی و؛ د تلو په ورځ، بودا په فارم کې له خپل مزدور سره مرسته کوله چې د هارو د اورګاډي تمځي ته د رسولو لپاره ګاډي پسي آس وتړي. کال موټس کټاره رغوله، هارو د وره پر زینه راووت، په خپل نازک او ښځه نوکي غوندې اواز یې غږ کړه: کال موټسه، کال موټسه! مهرباني وکړه، زما بکس په پرې وتړه.

د ربل پټلی کارمند هارو همداسې سړی و.

پوځی سړی اوس مې هم چیغې په غوږو کې دي؛ هغه وخت لا غټ هلک و اوږدپتلون به یې اغوستی و او مور یې په په فارم کې په ځرمنینه قمچینه واهه، ځکه غواګانې یې د ځړځای نه کور ته د راوستلو پر مهال په جوارو کې پرېښې وې، نو د ډېر جوارو خوړلو له امله ناروغه شوې وې.

مالدار یو ځل یې په همدې طریقه زما یوه غوا ووژله — خالصه جرسي او تر ټولو ډېره شیدې کوونکې غوا مې وه؛ بوډا اړ شو چې تاوان یې راکړي. هارو د وښو له منځه د لمر لوېدو نندارە کوله، هماغه وخت چې غوا ترې وتښتېده؛ ده ویل چې د لمرلوېدل بېخي په زړه پورې دي.
(خندا.....)
(متفاوت سړی پاځېږي.)

د بوستې سړی بښنه غواړم، زه... زه پوهېږم چې دا زما ځای نه دی... مطلب، زه ستاسو له ډلې نه یم... ستاسو د ښار په اړه هېڅ نه پوهېږم او نه غواړم بې‌ځایه خبرې وکړم، خو... ځان مکلف ګڼم چې وپوښتم... ایا کېدای شي چې... چې تاسو نه پوهېږئ... خبر نه یاست... د هغه تابوت پر سر د کجورې پاڼه ستاسو لپاره هېڅ معنا نه لري؟
(په ناباوری شاوخوا ته ګوري.)

د بوستې سړی هاروي مېریک یو ستر مجسمه‌جوړوونکی و. زه یې له زده‌کوونکو څخه وم. د هنر په نړۍ کې یې ډېر درناوی کېده.
(ځنډ...)

بانکدار فیلیپس د بودا ټبروتنه همدا وه چې هلک یې ختیځ ته، ښوونځي ته ولېږه. هالته یې سر ته د پاریس د سرګردانه تګ او دې ته ورته نور ټول بېځایه هوسونه ورننوتل.

د بوسټن سړی خو... د هغه آثار د اروپا په بهترینو موزیمونو کې ساتل کېږي.

بانکدار ایلډر هارو ته تر هر څه ډېر، د کنساس‌سیټي د سوداګریز کالج د زده‌کړو یوه دوره پکار وه.

د بوسټن سړی سوداګریز کالج؟ زه... زه فکر نه کوم چې تاسو دې په خبره پوهېږئ—

بانکوال فیلیپس اوهو، مورِ ډېر ښه پوهېږو.

د بوسټن سړی خو...

مالدار د مېریک د کورنۍ د یوه سړي لپاره ځلوېښت کلنۍ لا ځواني ده چې ساه ورکړي؛ دوی عموماً ډېر ښه عمر کوي.

کلانتر شاید ویسکي یې د مړینې بهیر چټک کړی وي.

د بوسټن سړی هغه خو هېڅکله شراب نه ځښل!

کشیش د مور د کورنۍ غړیو یې ډېر عمر نه کاوه او هارو هم چنداني غښتلی بدن نه درلود

مالدار خو بیا هم دا خبره نه شي رد کېدای چې هارو به شراب ځښل—که سره شراب به وو او که نور رنګونه؛ شرابو به تر ټولو ښتیا هم یو بې عقل جوړاوه.
(بیا ټولو یو ځای وخندل. ناڅاپه وکیل ودرېد او خپله سوک یې د مېلمنو خونې دروازه په زوره وواهله. مخ یې له ډېرې غصې سور شوی و او بدن یې له قهره رپېده. نورو کسانو ټکان وخوړ.)

وکیل زه تر دې مخکې هم له تاسو سره وم، هغه مهال هم چې د همدې ښار د نورو زېرېدلو او لویو شویو هلکانو د تابوتونو تر څنګ ناست وئ؛ او که مې سم یاد وي، د هغوی د ارزونې پر مهال هم چندان راضي نه وئ. اخر څه خبره ده؟ ولې په سنډ ستې کې د بااعتباره ځوانانو شمېر د میلیونرانو هومره لږ دی؟ پردي ته خو ښایي داسې وبرېښي چې ستاسو په دې پرمختللي ښار کې هر څه سم دي. ولې روبن سېیر، تر ټولو تکړه ځوان وکیل چې تاسو روزلی و، له پوهنتونه تر راستنېدو وروسته، سره له دې چې ډېر ښتینی او هوښیار و، ځښاک ته مخه کړه، چک یې جعل کړ او ځان یې په ډزو وواژه؟ ولې د ښل مېریټ زوی د اوماها په یوه شراب‌خانه کې د سختو رېږدېدنو له امله مړ شو؟ ولې د ښاغلي توماس زوی دلته په یوه جواري کې په ډزو ووژل شو؟ ولې ځوان اډمز خپله ژرنده وسوځوله، څو د بیمې شرکتونه وغولوي او زندان ته لاړ؟ درته وایم ولې. ځکه چې له هغه وخته چې لنډ پتلونونه یې اغوستل، تاسو د هغوی په غوږونو کې له پیسو او ټګۍ پرته بل څه نه دي ور اچولي؛ ځکه چې تل مو پرې نیوکې کولې، لکه نن شپه چې دلته کوئ او زموږ دوستان فیلیپس او ایلډر مو د نمونو په توګه وړاندې کړي، لکه زموږ نیکونو چې جورج واشنګټن او جان اډمز د نمونو په توګه وړاندې کول. خو له بده مرغه، هلکان په هغه کار کې نوي او بې‌تجربې وو چې تاسو ورسپارلی و؛ نو له فیلیپس او ایلډر غوندې ماهرانو سره به یې څنګه سیالي کوله؟ غوښتل مو چې بریالي ټګان شي؛ خو دوی یوازې ناکام ټګان شول—توپیر همدا دی.

په دې سرحدي سیمه کې، چې د وحشت او تمدن ترمنځ پرته ده، یوازې یو هلک و چې بدمرغه نه شو؛ او تاسو له هاروي مېریک څخه د بریالي کېدو له امله تر هغو ټولو نورو هلکانو ډېر کرکه کوله چې د ژوند د څرخونو لاندې شول.

خدایه، څومره مو تري کرکه کوله! فیلیپس تل وایي چې هر وخت وغواړي، موږ ټول اخیستلای او پلورلای شي؛ خو پوهېده چې هارو به د ده بانک او د څارویو ټولو فارمونو ته هېڅ ارزښت نه ورکاوه؛ او د هاروي له خوا دا خبره فیلیپس ته ډېره درنه پرېوته. زوړ نیمروډ دلته ګومان کوي چې هارو ډېر څښل؛ دا خبره د نیمروډ او زما له خولې! ورور ایلډر وایي هارو د خپل پلار پیسې ډېرې په ازاد لاس لګولې—ښایي د زوی په توګه یې د پلار په وړاندې د درناوي حق ادا نه کړ. ښه، موږ ټول هغه غږ او انداز په یاد نه لرو چې ایلډر په ولسوالۍ محکمه کې خپل پلار دروغجن وبالله؛ او ټول پوهېږو چې زوړ سړی له خپل زوی سره له هغې شراکت څخه د وړیو له خرڅیلو وروسته د ورغوي په څېر تش لاس راووت. خو ښایي خبره مې شخصي لوري ته ځي؛ ښه به وي چې هغه څه ته ورشم چې ویل یې غواړم. هاروي مېریک او زه هلته په ختیځ کې د ښوونځي ملګري وو. موږ رښتیا هم جدي وو او غوښتل مو یوه ورځ تاسو ټول راباندې وویاړئ. نیت مو دا و چې لوی انسانان شو. ان ما هم، ښاغلو، سره له دې چې د ټوکو حس مې نه دی بایللی، غوښتل چې لوی انسان شم. ښېرته دلته راغلم چې وکالت وکړم، خو ومې لیدل چې تاسو هېڅ نه غوښتل زه لوی انسان شم. غوښتل مو چې یو چالاک وکیل شم—هو، همداسې! زموږ دې پخواني سرتېري غوښتل چې د بدهضمۍ له امله ورته د تقاعد په امتیاز کې زیاتوالی واخلم؛ فیلیپس غوښتل د ولسوالۍ نوې سروې ورته وکړم، څو د کونډې وېلسن کوچنۍ لاندې کرونده د ده د جنوبي پولې دننه راشي؛ ایلډر غوښتل په میاشت کې د پنځه سلنه سود په بدل کې پیسې پور ورکړي او بیا یې راټولې کړي؛ زوړ ستارک دلته غوښتل د ورمونټ زړې ښځې په چل ول دې ته وهڅوي چې خپلې پیسې په داسې ځمکني رهنونو کې پانګونه کړي چې د هغو د لیکلو د کاغذ ارزښت هم نه لري.

هو، تاسو رښتيا هم سخته اړتيا راته لرله او تاسو به لا هم ما ته اړتيا لرئ؛ همدا لامل دی چې دا ځل له دې نه وېرېږم چې حقيقت درته په کلکه ووايم. ښه، ښرته راغلم او هماغه لعنتي چلباز وکيل شوم چې تاسو غوښتل. داسې تمثيل کوئ چې ګواکې درناوی راته لرئ؛ خو بيا هم درېږئ او پر هاروي مېريک خاوري شيندئ، هغه چې نه مو ورته روح ککړولای شوی او نه مو ورته لاسونه تړلای شو. ځومره د خپلې خوښې له مخې د اخلاقي معيارونه ټاکونکي مسيحيان ياست! داسې وختونه وو چې په ختيځ کې به مې په کومه ورځپاڼه کې د هاروي د نوم ليدلو پر مهال سر د وهلي سپي په څېر ټيټاوه؛ او بيا داسې وختونه هم وو چې د هغه په اړه به مې په دې فکر خوښي کوله چې هلته، په نړۍ کې، له دې ټولو خنزيرغاليو لرې، خپل ستر کار کوي او پر هغه لويه، پاکه، مخ په لوړېدونکې لار خېژي چې ځان ته يې ټاکلې وه. او مورِ؟ اوس چې مو جګړه کړې، دروغ مو ويلي، خولې مو تويې کړې، غلا مو کړې او د يوې ترخې، مړې او کوچنۍ لوېديځې ښارګوټي د ناهيلو مبارزانو په څېر مو کرکه کړې—د دې ټولو ثبوت مو څه دی؟ هاروي مېريک به ستاسو د ټولو شتمنيو په بدل کې هم ستاسو پر ځمکو د لمر لوېدو يوه شېبه نه وای ورکړې، او تاسو په دې پوهېږئ. دا زما کار نه دی چې ووايم ولې د خدای په نه‌پوهېدونکي حکمت کې يو نابغه له د کرکې له دې ترخو اوبو له دې ځايه غوښتل شوی؛ خو غواړم دغه متفاوت سړی پوه شي چې نن شپه يې دلته کوم بې‌مانا چټيات واورېدل؛ همدا د سند ستِي د حاضرينو پانګوالو له خوا هر ستر انسان ته رسېدلی يوازينی خراج دی؛ دوی ناروغه، له لارې اوښتې، د سوځېدلو سپيو په څېر ځپل شوې او د ځمکې له پلوه د بې‌وزله شارکانو ډله ده—پر دې ښار دې خدای رحم وکړي!

(وکيل متفاوت سړي ته د تېرېدو پر مهال لاس اوږدوي؛ بيا خپل کوټ رااخلي او د دهلېز په لور ورکېږي. متفاوت سړی يوه شېبه په ناڅرګندتيا کې هماغلته ولاړ وي.)

د بوستڼ سړی

هغه ... د مرګ په ورځ ... وروسته له هغه چې د دواړو سړو د رغېدو هر امکان يې له منځه لاړ ... ښاغلي مېريک له ما وغوښتل چې تابيا ورته وکړم—چې مړی يې خپل کور ته ولېږل شي. ويې ويل: «دا د خښيدو لپاره چندان ښه ځای نه دی، حال دا چې نړۍ خوځېږي، کار کوي او مخ په ښه کېدو ده؛ خو داسې ښکاري چې په پای کې بايد بېرته هغه ځای ته ستانه شو چې ترې راغلي يو.» ده راته وويل چې تاسې به راشئ او يو نظر به پرې واچوئ او چې خپله خبره مو وکړه، نو د خدای له قضاوته به چندان وېره ونه لري. هغه وخت مې د ده په مطلب سر نه خلاصېده—نه مې شوای درک کولای. له بده مرغه، اوس وينم چې حق له ده سره و.

(متفاوت سړی وځي. **چوپتيا**.)

پوځی سړی

افسوس چې د کومې ټولنې او اتحادې غړی نه و. زه خپله د داسې ټولنو د جنازې تشريفاتی مراسم خوښوم. داسې جنازې د هغو خلکو لپاره ډېرې مناسبې ښکاري چې يو څه مشهور وي.

(څراغونه ورو ورو تېټېږي...)

پای



د مجسمه‌تراش د جنازې مراسم

»د مجسمه‌تراش د جنازې مراسم« د ویلا سیبرټ کاتر انتقادي ادبي اثر دی چې د یوه بریالي هنرمند، هاروي مریک، د مړینې او جنازې په محور راڅرخي. په دې اثر کې لیکواله د یوه کوچني ښار د اوسېدونکو له خبرو او چلند څخه د ټولنیزې ریاکارۍ، فکري تنګ‌نظرۍ، حسد او د هنري استعدادونو پر وړاندې د ټولنې د منفي درېځ انځور وړاندې کوي. د اثر مرکزي موضوع د نابغه انسان او محدودې ټولنې ترمنځ ټکر دی؛ هغه ټکر چې پکې ټولنه د خپلو بریالیو او متفاوتو غړو د درک او منلو پر ځای، د هغوی د سپکاوي او محکومولو هڅه کوي.

